# خبرپاڼه

## د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام

۱۰ زمري ۱۳۸۵

## د افغانستان دنوي پیل پروګرام او پوهنې وزارت د ګډ نوښت په برکت لاډیرې ښځینه ښوونکي روزل کیږي.

### په دې ګڼه کې


د یو ښه روغ چاپریال لپاره د رسامي او لیکنې سیالی ۲

د سویټزرلینډ حکومت د افغانستان په پولیسو کې د ۳۰۰ نورو ښځو له ګمارنې سره مرسته کوي ۲

په افغانستان کې د ارام سمندر د سیمې د بشري پراختیا د رپوټ خپرېدل ۳

ایمز د لوړې ټکنالوژی روزنې ته ادامه ورکوي ۳

د معلولیت د مسایلو په هکله د افغان خبریالانو لپاره د رسنیو د اګاهي ورځ ۴

د جاپان دولت د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري له مهمو امانتي صندوقونو سره مرسته کوي ۴

د څلورو ملیونو ډالرو په ارزښت د نشه یي توکو پر خلاف د مبارزې پروژې پیل کېږي ۵

په تخار ولایت کې د وسلو راغونډولو مراسم ۵


د ملګروم ملتونو د پراختیايي اداري د نوي پیل پروګرام له لارې نوې ښځینه ښوونکي روزل کېږي.

له دغو تر روزنې لاندې ښځو څخه یوه شکیبه شیرزاد ده چې د ښوونکو د روزنې پنځه میاشتنی پروګرام به د ۲۰۰۶م کال د سپیتمبر تر نیمایي پورې بشپړ کړي.

شکیبه له ښوونځي څخه تیر کال فارغه شوې او د افغانستان د نوي پیل پروګرام په برکت د ښوونکو د روزنې جوړ شوي پروګرام کې د داخلېدو ازموینه یې په بریالیتوب سره تېره کړې ده.

شکیبا وویل " څنګه چې له ښوونځي څخه فارغه شوم، له تره څخه مې، چې پخوانی جنګیالی دی، د پخوانیو جنګیالیانو د کورنیو د ښځینه غړو لپاره د دغې موقع په هکله واورېدل، نو سملاسي مې ومنله چې دغه روزنه به تر لاسه کوم او ښوونکې به جوړېږم."

"زه د ښوونې په ښوونیزو او میتودیکي ارخونو کې کافي روزنه ترلاسه کوم. ما دلته زدکړل چې په ټولګي کې کومه لار خپله کړم، زده کوونکي څنګه و ارزوم او د ښوونې لپاره څنګه اغیزمن پلان جوړ کړم. د ښوونکې دنده به زما پر ژوند ټولنیز او اقتصادي اغیزه ولري او زه به د عزت او خپلواکي احساس وکړم."

دغه روزنه په مزارشریف کې د ۳۲ ښځو، هرات کې د ۷۰، کندهار کې د ۶۰، جلال اباد کې د ۲۶، کندز کې د ۶۰ او په بامیانو کې د ۲۲ ښځو لپاره ترسره کېږي. تمه کېږي چې دغه پروګرام به سږ کال د سپیتمبر په میاشت کې وروسته له هغه چې زده کوونکي وروستی ازموینه ورکړي بشپړ شي. وروستی ازموینه به دا جوته کړي چې ایا دوی رښتیا هم خپلواکې ښوونکې کېدای شي یا نه.

د ښوونکو د روزنې له دغه پروګرام سره نیغ په نیغه د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري د نوي پیل پروګرام له خوا د پوهنې او ښځو د چارو له وزارتونو سره په نږدې همکارۍ او همغږۍ کې مرسته کېږي.

دغه پروګرام کې د ټول هېواد په کچه د پخوانیو جنګیالیانو د کورنیو ۳۳۵ ښځې په موخه شوي دي، چې پنځه میاشتنۍ روزنه به تر لاسه کوي او له روزل کېدو وروسته به د خپلو اړوندو ولایتونو په لومړنیو ښوونځیو کې ښوونه کوي.

د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداری د نوي پیل پروګرام او نومړو وزارتونو تر منځ همغږي به په افغانستان کې د ور ښځینه ښوونکو شمېر ډېر کړي. د دغه کار موخه دا ده چې د افغانستان د هغې ژمنې ملاتړ وشي چې د زریزې د اهدافو د لاسته راوړلو د یوې برخې په توګه به تر ۲۰۱۵م کال پورې د ټولو ماشومانو لپاره لومړنیو زدکړو زمینه برابره وي او د ښځو او نارینه وو د حقوقو مساوات به رامنځته کوي.

په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري د نوي پیل پروګرام او د پوهنې وزارت تر منځ همغږې به د ور ښوونکو، خاصتاً ښځینه او روزل شوو ښوونکو کمی سپک کړي.

د ښوونکو د روزنې پروګرام یو له هغو خوښو څخه دی چې پخوانیو جنګیالیانو ته د بې وسلې کولو او ملکي ژوند ته له ورګرځولو ښځه وروسته ورکول کېږي.



د ۱۳۸۵ کال د چنګاښ پر ۸مه په ټولنه کې د پخوانیو جنګیالیانو د میشته کولو د پړاو له بشپړېدو سره د بې وسلې کولو، ملکي ژوند ته د ګرځولو او په ټولنه کې د میشته کولو پروګرام پای ته ورسېد. تر دې دمه ۲۴۵۳۶ ښځو ته، چې د پخوانیو جنګیالیانو خپلواني دي په پراختیايي پروژو کې د ښوونې یا کټې کوټې کارونو موقع ورکړل شوې او یا یې د ترلاسه کولو په انتظار دي. له بل پلوه د افغانستان د نوي پیل پروګرام د خوراکي توکو له نړیوال پروګرام سره د ښه نیت یو ترون لاسلیک کړی چې له مخې به یې له ۲۰۰۶څخه تر ۲۰۱۰ پورې د خوراکي توکو د نړیوال پروګرام په اړوندو پروژو کې د پخوانیو جنګیالانو ۴۴۵۵ ښځو ته ځای ورکړای شي.

وګورئ:
www.anbpafg.org

## د یو ښه روغ چاپېريال لپاره د رسمي او ليکنې سيالۍ

د افغانستان په شمال کې د شا او خوا ۳۰ ښوونځيو ۱۵،۰۰۰ زده کوونکي هڅول کېږي چې د سالم چاپېريال په اړه مقالې وليکي او انځورونه رسم کړي. دغه پروګرام د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادارې د "شنه افغانستان نوښت" د پروژې يوه برخه ده.

د ملګرو ملتونو دغه پروژه، چې په مزارشريف کې اډه لري، د شنه افغانستان د نوښت ملاتړ کوي په کوم کې چې د ملګرو ملتونو ګڼو ادارو د افغانستان د چاپېريال د خرابېدو د مخنيوي لپاره د ګډو هڅو هوکړه کړې ده.

د شنه افغانستان د نوښت پروګرام غواړي چې په ټولنو کې د چاپېريال د مسايلو په هکله اګاهي ډېره کړي.

په دغو ښوونځيو کې د اګاهي پروګرام درې عنصرونه درلودل: مقاله ليکنه، د انځورونو رسامي او څلور ځوابه پوښتنې.

لس کلنو او يوولس کلنو ماشومانو ته دنده ورسپارل کېږي او بيا د دوی کار د ښوونځي د ښوونکو او د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادارې د شنه افغانستان د نوښت د پروژې د کارکوونکو د ګډې کمېټې له خوا کتل کېږي.

څلوېښتو غوره برخه والو ته انعامونه ورکول کېږي او د انعامونو د ويشولو په وخت کې ټول زده کوونکي په ليکو کې درلول کېږي او د شنه افغانستان د نوښت په هکله معلومات ورکول کېږي همدارنګه دوی ته د بوټو د کېښودو او چاپېريال ساتنې د ګټو په څير مسايلو په هکله خبرې کېږي.

له شپږو څخه تر نو کلنو پورې ماشومانو نه په خوله يا ليکلي توګه څلور ځوابه پوښتنې کېږي.

په مزار کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادارې د شنه افغانستان د نوښت دله په پام کې لري چې د ښار



### د شنه افغانستان د نوښت د ټيم غړی د ښوونځي له ماشومانو څخه پوښتنې کوي

او کليو په ۳۰ ښوونځيو کې د اګاهي دغه ډول پروګرامونه تر سره کړي.

د دغه پروګرام له لارې د ښوونځيو ماشومان د سيمې د شنې کېدو د مثبتو اغيزو لکه د هوا پاکېدل او د سيلابونو، د هوا د بدلون او د خاورې د تخريب د مخنيوی په هکله معلومات ترلاسه کوي.

**د شنه افغانستان نوښت يو ګډ پروګرام دی چې د يونيسيف،يوناما، يونيپ، د خوراکي توکو نړيوال پروګرام او د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري له خوا په ګډه د کرنې، مالدارۍ او خوراکي توکو د وزارت او د چاپېريال له ملي اداري سره په نږدې همکارۍ کې پيل شوی دی. د شنه افغانستان نوښت د ځنګلونو د بياکېښودو، د چاپېريال ساتنې او په هېواد کې شنه چاپېريال ته د پراختيا ورکولو موخه لري. د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره چې د شنه افغانستان د نوښت د فعاليونو يوه برخواله ده په مزار کې يې د فبروري پر ۱۵مه نېټه اداري ټيم او سيمه ييز دفتر پرانيست او رسماً يې کار پيل کړ. دغه دفتر د شمال او شمال ختيزې سيمې نهه ولايتونه (بلخ، جوزجان، سرپل، فارياب، سمنګان، بغلان، کندز، تخار او بدخشان) تر پوښښ لاندې نيسي.**

**په مزار کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د شنه افغانستان د نوښت دفتر د چاپېريال د اګاهي مبارزې، روزنيز ورکشافونه او په ولايتونو کې د چاپېريال د چارو په هکله د ظرفيت لوړولو نوښتونه په لار اچوي.**

## د سويټزرلينډ حکومت د افغانستان په پوليسو کې د ۳۰۰ نورو ښځو له ګمارنې سره مرسته کوي

درې سوه اضافه ښځې به د سويس د حکومت په مرسته د پوليسو په ليکو کې داخلې شي. دغه مرسته د قانون او نظم له امانتي صندوق سره، چې د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري له خوا اداره کېږي، د سويس د پراختيا او همکارۍ د اداري له لارې ترسره کېږي.

هغه د ۱،۰۳ مليونه ډالرو تړون به، چې د سويس د پراختيا او همکارۍ اداري او د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري تر منځ د جولای پر ۱۲مه نېټه لاسليک شو، په ټول هېواد کې د کابل، مزار، کندز، جلال اباد، هرات او کندهار په سيمو کې د اضافي ښځينه پولسيو استخدام باوري کړي.

په عيني وخت کې به له دغې پانګې څخه د پوليسو په قومندانيو او امريتونو کې د جندر د څانګو د جوړونې او د دغو څانګو لپاره د کارکوونکو د استخدام او روزنې په خاطر او همدارنګه پوليسو ته د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي په څير مسايلو په هکله د روزنې او زدکړې او د اوسنيو ۱۶۰ ښځينه افسرانو د ملاتړ په برخه کې ولګول شي.

له دغې مرستې څخه به ۹۸۰،۰۰۰ ډالر په دوو کلونو کې د پوليسو په ليکو کې د ښځو د ډيرولو په برخه کې ولګول شي. پاتې ۵۰،۰۰۰ ډالر به د حقوقو د ورکړې د جدول بريښنايي سيستم ته چې د لوتفا يوه مهمه برخه ده او د ټول هېواد په کچه پوليسو ته د يو کمپيوټري سيستم له لارې د تنخاوو د ورکړې د باوري کولو لپاره کارول کېږي، لاړې شي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري له کورنيو چارو وزارت سره د پوليسو د بيارغونې د بهير په پيلولو کې مهم نقش لوبولی دی. د ۲۰۰۲م کال په مې کې د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري د قانون او نظم امانتي صندوق جوړ کړ څو د ټول هېواد په کچه له لاندې لومړيتوبونو سره پوليس بېرته کار ته ستانه کړي.

- د ټول هېواد په کچه د پوليسو د تنخاوو ورکول
- د غيري وژونکو وسايلو ورکول
- د دوی د شعبو د اسانتياوو بيا رغونه

## په افغانستان کې د ارام سمندر د سیمې د بشري پراختیا د رپوټ خپرېدل

د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري د ارام سمندر د سیمې د بشري پراختیا یو مهم رپوټ په کابل کې د ۱۳۸۵ د چنګاښ پر ۲۶مه نېټه د افغانستان د بهرنیو چارو او د سوداګرۍ د وزارتونو د چارواکو او نړیوالو څېړو په ګډون د شاوخوا اتیا رابلل شوو میلمنو په حضور کې خپور شو.

دغه رپوټ "سوداګرۍ له بشري شرایطو سره سم"، چې د اسیا په ارام سمندر سیمه کې د بشري پراختیا لپاره په سوداګرۍ کې د بدلون رواستو لپاره برابر شوی، د سوداګرۍ او اقتصادي ودې په برخه کې وروستي پرمختیاوې تر غور لاندې نیسي او پر بشري پراختیا، په ځانګړې توګه د سیمې پر بې وزلو هېوادونو او د هغوی پر بې وزلو وګړو یې اغېزې ارزوي.

دغه رپوټ مخکې ځې او پر دې ټینګار کوي چې هېڅ وخت نه سوداګرۍ او نه وده په خپل ذات کې د پای ټکی دی، بلکې یوازې د ستري بشري پراختیا او د بې وزلۍ او محرومیت پر خلاف د جګړې د غټو اهدافو د لاسته راوړو لاري چاري دي. نوموړی رپوټ له هېوادونو سره د نړیوالې سوداګرۍ د نوي پیچلي چاپېریال له ننګونو سره د مقابلې په برخه کې د مرستي لپاره اته ټکیزه اجنډا وړاندې کوي.

د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري سرپرستې رئیسې انیتا نیرودي د خپلو خبرو په ترخ کې وویل چې "د افغانستان لپاره دا ډېره ضروري ده چې په سیمه کې د اغېزمن فعالیت په خاطر د سیالۍ، زیربنا، تولیداتو او مهارتونو د ښه والي په برخه کې پانګه واچوي. دا چې افغانستان په وچه کې پروت هېواد دی نو بازار ته د خپلو تولیداتو د رسولو له پلوه له زیان سره مخ حالت کې ځای لري. له نړیوال اقتصاد سره د افغانستان د یو کولو لپاره د دوه اړخیزو، سیمه ییزو او ګڼ اړخیزو سوداګریزو تګلارو خپلونه ډېره مهمه ده. غټه فیصدي خلک د خپل معیشت لپاره پر کرنه باندې تکیه کوي. د کرنې سیکتور په هېواد کې د وګړو تر ټولو ستر استخداموونکی دی. خو د کروندې په کچه عاید نه دی ډېر شوی. د وګړو د ژوند د ښه والي لپاره د کرنې ښه والي، په ځانګړې توګه باارزښته تولیداتو او ټیټې کچې پروسس ته پام اړونه ډېره مهمه ده."

د افغانستان د لومړني بشري پراختیا د ۲۰۰۴م کال د رپوټ د بریالیتوب په تعقیب، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداري او کابل پوهنتون په کابل پوهنتون کې د بشري پراختیا او تګلارې د یو مرکز پر جوړولو لاس پورې کړی دی.



محمود سیقل د بهرنیو چارو مرستیال وزیر غونډې ته وینا کوي



ضیاالدین ضیا د سوداګرۍ مرستیال وزیر د خبرو پر مهال

## ایمز د لوړې ټکنالوژۍ روزنې ته ادامه ورکوي





تر دې دمه د افغانستان د مرکزي احصایې دفتر ۲۹۰ غړو د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري د معلوماتو د اداري د خدمتونو د پروژې (ایمز) په روزنیز پروګرام کې برخه اخیستې ده. له ۲۰۰۲م کال راهیسې ایمز په اوو وزارتونو کې کارکوونکو ته روزنه ورکوي او دوی ته د جغرافیایي معلوماتو د سیستم لابراتوارونه برابروي. په دغو لابراتوارونو کې نخشې طرحه کېږي او له وزارتونو سره د هېواد د بېلابېلو سیمو په هکله د معلوماتو د ترلاسه کولو او پلان جوړونې په برخه کې مرسته کوي.

د مرکزي احصایې په دفتر کې ۸۷ کارکوونکو د انګریزي د اساساتو په کورس، ۱۱۲ د کمپیوټر د کاروني د اساساتو په کورس کې، ۴۸ کسانو د ایمز له خوا د ډیپلوم د تصدیق شوو مرستیالانو او ۵۶ کسانو د ایمز له خوا د جغرافیایي معلوماتو د سیستم د تصدیق شوو مرستیالانو په توګه روزنه ترلاسه کړې ده.

نورالله، د مرکزي احصایې د دفتر مشر، چې خپله هم د کمپیوټر د اساسي پروګرامونو په روزنه کې شامل و وویل "پخوا زموږ کارکوونکو کمپیوټر نشو کارولی، خو اوس د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري د ایمز د پروژې په څېر مؤسسو د ملاتړ له لارې زموږ د کارکوونکو ظرفیت لوړېږي."

د افغانستان د مرکزي احصایې د دفتر د جغرافیایي معلوماتو د سیستم د څانګې مشر تمیم وویل چې "پخوا به زموږ د نخشو د طرحې هر ورکړی کار په قلم او کاغذ ترسره کېده او که زموږ هغه نخشې چې ډیزاین کړې به مو وې یا به تر کار لاندې وې د ډیزاین یا انتقال په وخت خرابېدې نو باید له صفر څخه مو له سره کار پیلولی، خو اوس یې په میموري سټیک یا سي.ډي کې انتقالولی شو، له اړتیا سره سم یې په ګڼو ځایونو کې ساتلی شو او څومره چې غواړو چاپولی شو."

ښاغلي تمیم زیاته کړه: "همدا اوس موږ د ۳۴ ولایتونو، ۳۶۴ ولسوالیو، او نږدې ۴۰۰۰۰ کلیو د نخشو پر ډیزاین او کمپیوټري کولو باندې کارکوو او ډېر ژر به د هرې ولسوالۍ د نفوسو شمېر د هېواد نخشې ته ورزیات کړو."

## د معلوليت د مسايلو په هکله د افغان خبريالانو لپاره د رسنيو د اګاهي ورځ



**ګل مکۍ سياوش، د کابل د ارتوپيډي د مؤسسې رئيسه خبريالانو ته د خپلې مؤسسې په اړه معلومات ورکوي**

د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د معلولينو د ملاتړ ملي پروګرام د چنګاښ پر ۲۱مه نېټه د خبرياليانو لپاره د اګاهي ورځ درلوده چې دوی ته يې په افغانستان کې د معلولينو د اوسني حالت په هکله معلومات ورکړل.

د معلولينو د ملاتړ ملي پروګرام اساساً په افغانستان کې د معوليت په هکله د اګاهي د کچې لوړولو او پر معلوليت د متمرکزو هڅو د همغږۍ او پلي کولو او د پاليسي جوړونې لپاره د حکومتي جوړښتونو د پراختيا او ظرفيت لوړولو موخه لري.

نجيب الله فهيم د شهيدانو، معلولينو او ټولنيزو چارو وزارت مرستيال وزير په خپلو خبرو کې وويل چې " معلوليت کومه نوې پديده نه ده چې په لنډ مهال کې پرې برلاسی ومومو. تر څو چې په هېواد کې ماينونه او بې وزلۍ وي معلوليت به کم نه شي."
افغانستان په نړۍ کې يو له هغو هېوادونو څخه دی چې تر ټولو ډېر ماينونه په کې کرل شوي دي او له همدې امله هر ورځ په منځني ډول پنځه کسان معلولېږي. په ځينو پېښو کې، ځيني معلوليتونه د معلولينو لپاره د کار د موقع د ترلاسه ورکولو اصلي لامل کرځي. د جګړې له امله معلول شوي کسان د افغانستان د معلولينو نيمايي جوړوي.

محمد رضا، چې څلوېښت کلن دی او شپږ لورګاني او دوه زامن لري ۲۰ کاله وړاندې خپل دواړه لاسونه په يو بربېښنايي ټکان کې له لاسه ورکړي وايي چې يوازينی کس دی چې د کورنۍ پالنه کوي خو په دوامداره توګه له ستونزو سره مخ کېږي ده زياته کړه چې "د يو دوکان د څښتن له ژمنې سره سم د هغه دوکان ته يوه اونۍ ورغلم چې کار راکړي."

د افغان حکومت د استخدام له مقررې سره سم ټول وزارتونه مکلف دي چې د خپلو کارکوونکو په سلو کې پنځه معلولين ونيسي خو داسې هيڅ سوابق نشته چې دغه مقرره پلي شوي يا نه.

علي دوست چې ۳۵ کلن او د شپږو ماشومانو پلار دی د غاليو اوبدلو په يوه کارخانه کې کار کوي وايي " ما خپله چپه پښه نهه کاله وړاندې د طالبانو له خوا د توغل شوي توپ د ټوټې له امله کله چې دوی د کابل د نيولو لپاره جګړه کوله، له لاسه ورکړه. ما ته په دې ورکشاف کې د هرې مياشتې د کار په بدل کې ۵۰۰ افغانۍ (۱۰ ډالره) راکول کېږي."

د اګاهۍ د ورځې په اوږدو کې خبريالان د معلولينو دوو مرکزونو ته بوړل شول چې يو يې د کابل د ارتوپيډي مؤسسه ده. دغه افغاني موسسه د امريکا د پراختيايي اداري له خوا تمويلېږي او معلولينو ته د فزيوتراپي خدمتونه وړاندې کوي او مصنوعي اعضاء او په تګ کې کومکي وسايل ورکوي. يوه بله پروژه چې خبريالان ورغلل يو ورکشاف و چې غالۍ، فلزي ورسۍ، ورونه، د تيلو ټانکونه او نور فلزي وسايل جوړوي.



**محمد رضا خبريالانو ته خپل وړتياوې ښيي**



**علي دوست، د معلولينو په يو ځايي ورکشاف کې غالۍ اوبي.**

## د جاپان دولت د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري له مهمو امانتي صندوقونو سره مرسته کوي

د جاپان دولت په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري له مهمو امانتي صندوقونو سره د نورو ۷,۹ مليونه ډالرو مرسته کړې ده.

پنځه مليونه ډالره د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق ته ځي چې د نشه يي توکو ضد اړوندو هغو پروژو او فعاليتونو ملاتړ کوي چې د نشه يي توکو ضد ملي ستراتيژۍ کې په ګوته شوي دي. د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق د ماليې او نشه يي توکو ضد وزارت له خوا اداره کېږي. دغه مرسته بديل معيشت ته بېله شوې ده.

دوه مليونه او نهه سوه زره ډالره د افغانستان د قانون او نظم امانتي صندوق (لوتفا) ته ځي، چې د ماليې وزارت له خوا اداره کېږي. د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري لوتفا په ۲۰۰۲م کال کې د پوليسو د بيا فعالولو لپاره جوړ کړ. د لوتفا په فعاليتونو کې د پوليسو د تنخواوو د ورکړې باوري کول او د استخدام او روزنې غښتلي کول شامل دي.

د جاپان دغه وروستۍ مرستې په افغانستان کې د سولې د ټينګښت په اړه د ټوکيو په دويم کنفرانس کې چې د چنګاښ پر ۱۴مه ترسره شو، تائيد شوې.

دغه مرستې به په افغانستان کې د امنيتي سيکټور له سمونو سره مرسته وکړي.

## د څلورو مليونو ډالرو په ارزښت د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې پروژې پيل کېږي

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې اړوند څلور پروژې چې ټول ټال څلور مليونه امريکايي ډالر پرې لګېږي د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د امانتي صندوق له لارې پيل کېږي.

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې او د برېښنا او اوبو وزيرانو او د کرنې، ماليې او عامې روغتيا د وزراتونو معينانو تر منځ په دغه اړه تړونونه لاسليک شوي دي.

۱. درې د اوبو د برېښنا د وړو سټيشنونو يو کلنۍ پروژې چې په راتلونکي کال کې به د بدخشان په چټاه جورم او سنګاب کې جوړېږي. د دغو پروژو ټول لګښت ۲,۵۴۵,۷۰۰ ډالره دی او د اوبو او برېښنا وزارت يې پلي کوي.

۲. د مرخيتيو يوه ازمينتي پروژه په وړه کچه په کابل، بغلان، ننګرهار، بدخشان، بلخ، هرات، تخار، کندز، غزني او باميانو کې پيلېږي، چې ټول لګښت به يې ۱۳۰,۸۲۵ ډالره وي او د کرنې او اوبو لګولو وازرت يې په شپږو مياشتو کې پلي کوي.

۳. په اتو ولايتونو (غور، غزني، باميانو، نيمروز، فراه، فارياب، کندز او جوزجان) کې د معتادينو (پر نشه يي توکو اخته کسانو) د درملنې داسې پروګرامونه چې ولس هم په کې برخه لري جوړېږي. ټول لګښت يې ۹۳۵,۳۶۱ ډالره دی او د عامې روغتيا وزارت يې پلي کوي.

۴. په ننګرهار او بلخ کې په کورونو کې د معتادينو د درملنې دوه پروګرامونه چې ټول لګښت يې ۳۵۴,۲۰۷ ډالره دی او د عامې روغتيا وزات يې پلي کوي.

د نشه يي توکو ضد وزير ښاغلي حبيب الله قادري د خپلو خبرو په ترڅ کې وويل چې " د نشه يي توکو ضد وزارت د نشه يي توکو ضد هڅو په برخه کې د يو مخکښ ارګان په توګه تل هڅه کوي چې له بزګرانو او له اړوندو وزارتونو سره د پراختيايي پروژو په پلي کولو کې مرسته وکړي. نن ورځ د دې پروژو تائيد د دغې خبرې څرګنده ښکارندويه دی. موږ له نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه کوو چې د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق سره لازياتې مرستې وکړي او اړوند وزارتونه د داسې اغيزمنو پروژو له وړانديزونو سره رامخکې شي چې د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق له لارې تمويل شي. داسې پروژې چې له بزګرانو سره مرسته وکړي څو کوکنارو له کرنې څخه ډډه وکړي.“

د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق، چې د ۲۰۰۵ م کال د اکتوبر پر ۲۹مه نېټه د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادرې له خوا رسماً جوړ شوی، له افغانستان سره د کوکنارو د کرنې او نشه يي توکو سوداګرۍ ضد هڅو کې مرسته کوي. د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق داسې طرحه شوی چې د افغانستان حکومت د پروګرام عمومي مسؤليت پر غاړه لري، د ماليې وزارت د اجرايي ارګان او د نشه يي توکو ضد وزارت د لاربنود او يو پلي کوونکي ارګان په توګه مسؤليت لري. دغه امانتي صندوق د نشه يي توکو ضد مبارزې اړوند هغه پروژې تمويلوي چې د نشه يي توکو ضد ملي ستراتيژۍ په اتو ستنو کې په ګوته شوي دي. په دغو اتو ستنو کې بديل معيشت، د بنسټونو جوړول، اطلاعاتي کمپاين، د نشه يي توکو د قانون پلي کول، جنايي عدالت، د کوکنارو له منځه وړل،د نشه يي توکو د تقاضا کمول، د معتادينو درملنه او سيمه ييزه او نړيواله همکارۍ شامل دي.

وګورئ:

www.mcn.gov.af

## په تخار ولايت کې د وسلو راغونډولو مراسم

تخار د افغانستان په شمال کې پروت دی چې د ناقانونه وسله والو ډلو د رنګولو شرايطو ته د غاړې کېښودو په برخه کې د ټول هېواد په کچه مخکښ ځای لري.

د ۱۳۸۵م کال د زمري پر ۴مه نېټه د چاه اب په ولسوالي کې د قوماندان بشير قانت له خوا د ډاياک پروګرام ته د وسلې سپارنه په يو لړ مراسمو کې ترسره شوه. په دغو مراسمو کې، قوماندان صدردين د قوماندان قانت په استازيتوب تر ۱۰۰ ميله ډيره وسله د ډاياک د وسلې راغونډولو ټيم ته وسپارله.

قوماندان بشير قانت له خبرو وروسته قسماً د وسلو سپارلو له لارې د ډاياک ملاتړ کوي. ډاياک د حکومت تر مشرتابه لاندې پروګرام دی چې موخه يې په هېواد کې د ناقونه وسله والو ډلو د نفوذ له منځه وړنه ده، چې په دې توګه په افغانستان کې د سولې ټينګښت، د قانون واکمنی او سوکالۍ ته لار اواروي.

تخار د پنځو نورو ولايتونو تر څنګ د ډاياک د لومړي پړاو لپاره غوره شوی دی. د ۱۳۸۵ د غبرګولي پر ۱۱مه د تخار ۳۶ قوماندانانو او هغو دولتي چارواکو ته چې له ناقانونه وسله والو ډلو سره اړيکې لري د خبرتيا ليکونه وسپارل شو چې په دغو ليکونو کې له دوی څخه غوښتنه شوې وه چې خپلې وسلې بايد وسپاري، ناقانونه ډلې رنګې کړي او يا اړيکې ورسره وشلوي.

له دغې نېټې راهيسې، د والي او نورو چارواکو د روانو هڅو له امله يو شمېر قوماندانانو دغه بهير ته قسماً يا پوره غاړه ايښې او په دې توګه يې تخار ته لار اوره کړې چې په افغانستان کې د ډاياک د شرايطو لومړی پوره کوونکی شي. په هغو ولسواليو کې چې شکايتونه ډير دي، د خونديو چاپېريال له رامنځته کېدو سره به ټولنې بالقوه پراختيا او د حکومت پروژو ته لېواله کړي او په دې توګه به په تخار کې نوې سوکالۍ را زرغونه شي.

په دغو مراسمو کې د تخار د والي مرستيال او همدارنګه د افغانستان د نوي پيل پروګرام او يوناما استازو برخه اخيستې وه.

**د ډاياک بهير د ۱۳۸۴م کال د چنګاښ پر ۲۰مه نېټه پيل شو. تر دې دمه پورې، د افغانستان د نوي پيل د پروګرام د وسلو راغونډولو ډلو ته ۲۴۱۸۲ ميله وسله چې ۱۴۹۲۰ عملياتي وسلې په کې شاملې دي او ۲۰,۹۱۵ صندوقو کې بندې او ۱۹۶۸۴۰ له صندوقو وتلې مرمۍ سپارل شوي دي چې دغه شمېرې د نومړي پروګرام له خوا هم منل شوي دي.**



**د لازياتو معلوماتو لپاره:**
**دومنيک ميډلي، د خبرې رسنيو د اړيکو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org
**عزيز الرحمن ګلبهاري، د اطلاعاتو او نشراتو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org